# Declaration of Independence

## په کانګرس کښې، په جولايي ۴، ۱۷۷۶

## د امریکې د دیارلس و یو شوی و دولتون و په ګډه د ازادی ز وتړه

**کله چي** د اینساني پیښ و په بهیر کښې، د یوه اولس لپاره دا ز روري شي چي هغه وندنې وشلوي چي دوی یې له یوه بل (اولس) سره پیپلی وي، او د زمکې د ن ور و ځواکون و په منځ کښې یوه داسي جلا او برابر ځای غوره کي چي د جندون (*Nature*) او خدای کانون یې پر دوی پیرز و کوي، **ن و** د اینساني لېمون (*Opinion*) سم درناوی دا غوښتنه کوي چي دوی دي هغه سو بونه ښکاره کي چي دوی د یووالي پرځای بېلتون غوره کول و ته اړباسي.

موږ په ډاګه دا ریښتیا وایو، چي اینسانان برابر پیدا شوي دي، چي پر دوی باندي د خپل خدای لخوا داسي نابېلېدونکي ربښتې پیرز و شوې دي لکه د ژوند، ازادی او خوشالی ربښتې، — د دغ و رېښت و د خوندي ساتل و لپاره اینسانان و بله راټ ول شي او سرکار ج وړ کي، یو داسي سرکار چي واکونه یې د نیاو پر بنسټ ولاړ وي او تر خپل واک لاندي اینستنان و له خوشې څخه سرچینه اخلي – ، چي کله هم یو سرکار د دغ و موخ و ماتونکی شي، ن و بیا دا د اولس ربښته ده چي دا سرکار بدل کي او یا یې ببخي ړنګ کي، او پرځای یې یو بل داسي سرکار و رغوي چي بنسټونه یې پر داسي سټ و ولاړ وي او د خپل و واکون و سریینته په داسي ت وګه و کي چي دوی ته د خپل خوندیت وب او خوښالی لپاره ببخي اغېزمن و ابسي. دا سمه ده چي پام او ترسله دا غوښتنه نه کوي چي موږ پر یوه کوچنی او تېرېدونکي خبره د اوږدې مودې یو سرکار وران کو؛ او همدا راز تجربې دا هم ښ ودلې ده چي کله یوه ناخواله د ګالل و وړ وي ن و اینسانان یې ګالل و ته لومړیت وب ورکوي او هغه څه ته بدلون نه ورکوي چي دوی ورسره روږدي شوي وي.

مګر کله چي د زیاتي او تېري تل همداسي روان بهیر تر یوې چورلټې ز ورواکی لاندي د دوی شتون ببخي جوت کي، ن و بیا خو دا د دوی ربښته او دنده ده چي داسي سرکار رانسک ور کي، او د خپل خوندیت وب لپاره ګانده ن ور نوي ساتند ویان پیدا کي. — دغ و نوابادی و هم داسي په زغم ګالنه ترسره کوله؛ او همداسي یوه اړتیا اوس دوی اړباسي چي د خپل سرکار پخوانی اډاني بدلي کاندي. د سترې برتانیې د اوسني باچا تاریخ د درد او تېري تاریخ دی، چي ګرده م وخه یې پر دغ و سوب و (ولایتون و) باندي د یوې ز ورواکی بسیا کول دي. د زبات لپاره راځئ چي ټ ول ریښتیا د نیاومن جهان و مخې ته کښېږدو.

دی د هغه کانون له منل و سکوتہ نتہ کړې ده، کوم چي د اولسي ښېګړې لپاره تر هرڅه ستر او زروري دی.

هغه خپل س وب داران د ببخي اړین و کانونون و له ج وړول و ته هم نه پرېږدي، او یا چي

ترڅ و چي د هغه خوښه نه وي نو دا کانون يې له کارېدل و ځندولي ساتلي وي؛ ن و کله چې دا کانون ځنډېدلي وي مانا يې دا ده چې سکوټ له له پامه غورزولي وي. هغه د ډېر و پراخ و سيم و اولسون و له منل و څخه نټه کوي، تر ځ و چي دا وګړي په کانون جرګې کښي د خپل استازيت وب له رېښتې تېر شوي نه وي؛ هغه رېښته کومه چې د دوی لپاره ډېره ستره ده او د ز ورواکان و لپاره ډېره خترناکه ده.

دی کانون ج وړونکې غونډې په ناد وديز و، ستونزمن و او د اولسي ياداښتان و له زېرمې څخه لرې ځايون و کښې رابولي، يوازي د دې لپاره چې دوی دومره ست ومانه کې چې ناچاره شي او د هغه کړنې و مني.

هغه د خلک و د استازيتوب ايوانونه پرلپسې وران کړي دي، ځکه چې هغوی په مېړانه د ده لخوا د اولس پر رېښت و بريدون و مخنيوی کړی دی.

د دغسي ورانولول و وروسته، هغه تر اوږدې مودې پوري د نور و د ټاکنې مخنيوی کړی دی؛ ن و په داسي اکر کښې د کانون رغونې واکونه، چې هيڅکله له منځه تلونکي نه دي، بېرته داولس لاس ته ورغلي دي چې و يې کاروي؛ ن و ځکه خو په دې ترڅ کښې دولت له بهره د بريدون و له ختر سره مخامخ دی، او دننه هم له سختو تکانونو سره مخامخ دی.

هغه د دغ و هيوادون و د اولسونو د مخنوي هڅه کړې ده؛ د دغې م وخې لپاره يې بهرنيان و ته د ښاريت وب ورکول و د کانون مخه ډب کړې ده؛ د ن ور و وګړ و دلته راتګ هڅې يې ردې کړې دي، او د ځمکې ښبتن کېدل و باندي يې نوي شرتونه لګولي دي.

د نياو د واکون و د ټينګښت په ردول و سره هغه د نياو په لاره کښې خنډونه اچولي دي. هغه ټ ول کازيان د هغوی د کاري مودې او د تنخا د اداېګي لپاره و خپل ځان ته اړ ساتلي دي. هغه غرونه غرونه دفترونه رغولي دي، او غ ول غ ول افسران يې رالېږلي دي چې اولس و وېروي، او د هغوی ر وزي ورڅخه و خوري.

هغه زموږ د استاز و له خوښې پرته زموږ په منځ کښې خپلې لښکرې ساتلي دي. هغه پوځې ځواک خپلواکه کړی او پر ښارندوی واک يې برسېره سپور کړی دی.

هغه له پردی و سره يوځای شوی دی او موږ يې تر يو داسي سرکار لاندي ساتلي يو چې زموږ له دستور څخه بهر دی، او زموږ کانون يې نه پېژني؛ او د هغوی هغه کړنې مني چې دوی يې د کانون جوړونې په پلمه ترسره کوي:

زموږ په منځ کښې د ل وی و ل وی و لښکر و ساتل:

کله چي دوی د  دې نوابادیو ا وسېدونکي وژني ن و دی د  درواغ و د  سپیناوي په پلمه دوی له سزا ژغ وري:

د  جهان له ټ ول و برخ و سره زموږ سوداګري غوځوي:

پر موږ باندي زموږ له خوښې پرته ټېکسونه لګوي:

ډېر ځله موږ د  جرګې له سپیناوي څخه بې برخې کوي:

 درواغ و د  جرمون و د  سزا لپاره موږ تر سمندر پوري لرې هیوادونه ته استوي:

په ګاونډۍ سوبه کښې یې د   ازاد انګرېزي کانون اډانه ورانه کړه، هلته یې خپلسری سرکار  ج وړ ک و، او بیا یې د   هغه پولې دومره و   غځولې چي همدغسي ز ورواکي په ن ور و  نوابادیان و  باندي هم و  لګوي:

زموږ لیکلي تړونونه یې راڅخه واخیستل، زموږ تر ټ ول و ګرانبها کانونونه یې وران کړل، او زموږ د  سرکارون و بڼې یې بېخي بدلې کړې:

زموږ خپله کانون رغونه یې راله ورانه کړې، او زموږ لپاره د   هرډول کانون ج وړول و واکونه یې په خپل لاس کښې واخیستل. هغه مهال هغه دلته سرکار برمته ک و کله چي یې موږ له خپلې ساتنې و   ایستلو او زموږ په چپه یې جنګ پیل ک و.

هغه زموږ سمندرونه لوټ کړي دي، ساهېلونه یې تالان کړي دي، ښارونه یې سوزولي دي، او زموږ د  اولس ژوند یې تباه کړی دی.

 دا ګړۍ هغه لګیا دی سترې د  کرایې لښکرې دلته رالېږدوي چي د  وژنې، تباهۍ او ز ورواکۍ هغه کارونه بشپړه کي چي لالمخه یې د  تېري او د وکې تر چتر لاندي پیل کړي دي، چي په بېخي یاغي پېرون و کښې یې هم کم سارۍ پیدا کېږي، او د  یوه ساهو میلت له مشر سره خو بېخي نه ښایي.

ده زموږ خپل ښارند ویان په سمندرون و کښې د   دې لپاره یرغمل کړي دي چي یا خو دي دوی د  خپل هیواد په چپه درسته واخلي، د  خپل و د وستان و  او ورونې و  وژونکي دي شي، یا بیا دوی به په خپله د  ده له لاسه و   وژل شي.

 هغه زموږ په منځ کښې کورنی و پاځونون و ته لمنه وهلې ده، او  هڅه یې کړې ده چي زموږ د  پول و ناترسه یاغي هندیان دلته راوړي، چي د  جنګ کانون یې د  زړ و او وړ و، نر، ښځې او هر ډول خلک و بې سرپې تباهي لپاره په نام دی.

موږ په هر پړاو کښې د  دغسي تېری و او زیات وبون و د  سمول و لپاره په ډېره مسکینی زاری کړې دي: مګر زموږ د  پرلپسې زاری و ځواب یې په پرلپسې دردون و راکړی دی. یو داسي ټ ولواک چي ټ ول کړه وړه یې د  یوه ز ورواک له کارون و ډک وي، ن ور پر یوه ازاد اولس د  واکمنی وړ نه دی.

موږ د خپل و برتانوي ورو ڼ و پاملرنه غوښتي ده. موږ دوی ته د دوی د هغ و هڅ و په باره کښي خبردار ورکړی دی چي دوی يې د خپل واک پرموږ باندي د راتپل و لپاره کوي او موږ ورته اړتيا هم نه لرو. موږ دوی ته دلته زموږ د پنا او بسيا کېدني په باره کښي هم يادونه کړې ده. موږ د دوی خپل نياو ا و ساهوت وب ته زاری کړې دي، او موږ دوی ته زموږ او د دوی ترمنځ د خپلوۍ وندني هم د دې لپاره ورپه ياد کړې دي چي دوی زموږ په چپه له خپل هغه تېري څخه لاس واخلي چي زموږ او د دوی ترمنځ تړاو او شاندې غوڅوي. مګر دوی هم زموږ د نياو او خپلوۍ اواز ته خپل غوږونه بند و ساتل. نو به هرومرو دا اړتيا لمخې له دوی څخه بېلتون منو، او وايو به چي د ن ور و اينسانان و غوندي دوی هم د جنګ په وخت کښې زموږ دوښمنان دي، او د امن په وخت کښي مو دوستان دي.

نو ځکه ، موږ، د امرېکې د يوشويو ايالتون و استازي، په دې ستره جرګه کښې راغونډ شوي يو او د نړۍ هسکين نياوګر ته د خپل و نيتون و د سمون زاری کوو، او د نوابادیان و د اولسون و په نامه او د دوی د واک پر مټ سمدم دا خپرونه کوو او په ز وته وايو، چي دا يوشوې نوابادياني دا رېښته لري چي هرومرو ازاد او خپلواک دولتونه شي؛ دوی دي له برتانوي تاج څخه بېخي بري شي ، ن ور ن و برتانوي تاج ړنګ دی او پکار دی چي ړنګ وي، دوی پوره واک لري چي جنګ پيل کي، امن راولي، تړونونه و کي، سوداګري ټينګه کي، او نور هر هغه چارې او کارونه ترسره کي چي خپلواک دولتونه يې کوي. د دغې ز وتې د مرستې لپاره د خدای پاک په ساتنه موږ په خپل منځ کښې د خپل ژوند، مال او ننګ ژمنه و بله کوو.

ژباړه: ن اتل

*The 56 signatures on the Declaration appear in the positions indicated:*

**Column 1**
**Georgia:**
Button Gwinnett
Lyman Hall
George Walton

**Column 2**
**North Carolina:**
William Hooper
Joseph Hewes
John Penn
**South Carolina:**
Edward Rutledge
Thomas Heyward, Jr.

Thomas Lynch, Jr.
Arthur Middleton

**Column 3**
**Massachusetts:**
John Hancock
**Maryland:**
Samuel Chase
William Paca
Thomas Stone
Charles Carroll of Carrollton
**Virginia:**
George Wythe
Richard Henry Lee
Thomas Jefferson
Benjamin Harrison
Thomas Nelson, Jr.
Francis Lightfoot Lee
Carter Braxton

**Column 4**
**Pennsylvania:**
Robert Morris
Benjamin Rush
Benjamin Franklin
John Morton
George Clymer
James Smith
George Taylor
James Wilson
George Ross
**Delaware:**
Caesar Rodney
George Read
Thomas McKean

**Column 5**
**New York:**
William Floyd
Philip Livingston
Francis Lewis

Lewis Morris

**New Jersey:**

Richard Stockton
John Witherspoon
Francis Hopkinson
John Hart
Abraham Clark

**Column 6**

**New Hampshire:**

Josiah Bartlett
William Whipple

**Massachusetts:**

Samuel Adams
John Adams
Robert Treat Paine
Elbridge Gerry

**Rhode Island:**

Stephen Hopkins
William Ellery

**Connecticut:**

Roger Sherman
Samuel Huntington
William Williams
Oliver Wolcott

**New Hampshire:**

Matthew Thornton